اوريدلي مي نومونه هم څلور دي
نازل شوي كتابونه هم څلور دي

د څلورو فرشتو په لاس نظام دي
امامان دي مسلكونه هم څلور دي

په څلورو بازوګانو دي سفر دي
جنازه كي تكبيرونه هم څلور دي

رحمان وايي د څلورو ملګرتيا كړه
ستا د قبر ديوالونه هم څلور دي